انجنير سيد عبدالقادر

۳۰ ـ ۷ ـ ۲۰۱۰

## ولسي جرګې خپله ميز ټکونه څو اونۍ مخکې دجمهوري رياست دمقام سر ه په يوه پټه معامله کې پاي ته ورسوله !

دايو ښکاره حقيقت دي ، په هر هيواد کې چې دولت داشغال په نتيجه کې منځ ته راځي ، دهغو ولسونو په وړاندي دهيڅ نوع حقوقي مشروعيت لرونکي نه وي ۰ ځکه نو ټوله کړني يي هيڅ نوع حقوقي جواز نه لري ۰ ولي داشغال تر ماتي وروسته هغه ملي سياسي رژيمونه چې دخلګو دارادي په نتيجه کې منځ ته راځي ،دملي او بين المللي قوانينو پر اساس کولايسي چې دملي ګټو په نظر کې نيولو سره دتيرګوډاګي رژيم پر کړونو باندي دسره غور او ځيرنه وکړي ۰ ولی په ځانګړي توګه دملي شتمني هغه برخه چې اقتصادي جنايتکارانو په يوه او بله بڼه تر لاسه کړي ، او يايي پلورلي وي ،په دواړو حالاتو کې دنوي دولت اساسي دنده ده ، چې که دا جنايتکار په داخل او يا بهر کې هم وي بايد دحساب وميز ته راوغوښتل سي او دولس په وړاندي خپل حساب تصفيه کړي ۰ طبيعي خبره ده چې په دې کار سره به دانوي رژيم نورهم وکړايسي دولس په منځ کې خپل اعتماد ډير او د خپل محبوبيت کچه لو ړه کړي ۰

ولي په دې ليکنه کې به دافغانستان داوسني اساسي قانون په نظر کې نيولو سره ، دجمهوري رياست او ولسي جرګې پر هغه پټه معامله باندي به لږ څه مکث وکړو ، کوم چې دکابيني دپاتـه وزيرانودتائيد په هکله يي تر سره کړي ده ۰

کوم وخت چې دجمهوري رياست دټولټاکنو پروسه دکورنيو او بهرنيو مختليفو استخباراتي شبکوتر نظرونو لاندي دبي سارى تاريخي درغليو سره سره پاي ته ورسيدل ، نو دافغانستان داساسي قانون او ټولټاکنو دقانون څخه په ښکاره سر لغړونه ،دټولټاکنود کميسون رئيس ، "محترم حامد کرزي" دټولټاکنو ګټونکي اعلان کړي ۰

د "محترم حامد کرزي" تر دې مصنوعي بري وروسته ددرو لسيزود ځوريدلي ولس هغوکسانو چې په دې ټولټاکنو کښي په يوه اوبله بڼه ګډون کړي وو، او "محترم کرزي" ته يي رايه ورکړي وه ، بيا هم په دې فکر کې وه ، چې شايد "کرزي صاحب" به دخپلوتيرو اتو کلونو کړونوبه دې نتيجي ته رسولي وي ، چې نور نو دبشري اواقتصادي جنايتکارانو څخه مخ واړوي ، او خپل کړيدلي ولس ته لاس ورکړي ۰ ولي "محترم کرزي" بيا هم د خپل ولس مخ دبشري اواقتصادي جنايتکارانو په هغه لويه ځپيره وواهه ، کوم چې هغوي د خپل حاکميت پر وخت او بيا داشغال په دې لسيزه کې دوطن په هر ګوټ کې ددې جنګ ځپلي ولس د بي حرمتي ، بي عزتي او بي ساري زورونوڅخه مخ نه دي اړولي اولاخوند يي هم پري اخستي دي ۰ ځکه نوطبيعي خبره ده چې د نوي حکومت لـه پاره د کرزي وړانديزونوددوي او ولس ترمنځ دهرنوع اعتماد او همکاري فضا نوره له منځه يووړل ، داځکه چې :

"کرزي صاحب" خپله نوي ۲۴ کسيزه کابينه دجنوري پر لسمه په داسي حال کې دخپل مرستيال په ذريعه وولسي جرګې ته ورووپيژندل ،چې دوي ورځې مخکې يي دولسي جرګې دځينو نماينده ګړو سره دجمهوري رياست په قصر کې دنوي کابيني دراتلونکي تائيد په منظور دتفاهم لـه پاره غوښتي وه ۰ چې ددې وکيلانو دجملي څخه يوه وکيل مير احمد جوينده داسو شيتيد پرس آژانس ته ددې تفاهم په هکله داسي ويلي وه :

د کرزي کابينه لکه ماشيني توليدات ټول په يوه رقم دي ، هيڅ تغير نه دي پکښي راغلي ۰ نوموړي وايي دی دپارلمان په هغو ګړو کې شامل و ، چې دپنجشنبې په ورځ يي له حامد کرزي سره دکابينې په اړه وليدل او کله چې يي دکرزي ليست وکتي ، هيڅ نوی مخ يي پکښي ونه ليدي ، سخت مايوسه سو اود اعتراض په توګه له غونډي ووتۍ ۰

ولی دا ۲۴ کسیزه د کابینې لومړنی لیست چې ۱۲ وزیران ي بیا هم دزړي کابینې هغه غړي وه ، چې ډیر شمیر یې په اقتصادي لویو درغلیو ، دوظیفي پر مهال په پوره بي کفایتیو او دبهرنیو هیوادونو سره په پټو اړیکو باندي دجمهوري ریاست او ولس لـه خواه پـه وار وار سره متهم سوي وه ، دخپل مرستیال پـه ذریعه ولسي جرګـي تـه وروپیژندل ۰ اوولسي جرګی په خپله نوبتي غونډه کي ددې وزیرانو په هکله د ډیر بحث او بیا د رایـه اچوني نـه وروسته ، یوازي ۷ وزیرانو وکړایسواي دتائید رایه تر لاسه کړي ۰ ولی پر ۱۶ دجنوري دجمهوري ریاست مقام ددوهم ځل له پاره دوزیرانو اولس کسیز لیست دجمهوري ریاست ددوهم مرستیال لـه خواه ولسي جرګـي تـه وړاندي کړ ۰ ولي بیا هم په ولسي جرګـه کـي تـر ډیر بحث وروسته ، یوازي ۷ وزیرانووکړایسواي درایو پـه اکثریت دولسي جرګي د اعتماد رایه خپله کړي ۰ ولي وروسته تر دې "کرزي صاحب" ، ولسي جرګي ته د کابینې د پاتـه وزیرانو وړاندیز دیوي ورځي ته داسي ځنډاوه ، چې نیژدي دري میاشتي یې پـه بـر کـي ونیولي، څو چې داپریل په ۱۶ نیټه ولسي جرګي جمهوري ریاست مقام ته لس ورځي وخت ورکړ ې ، چې خپل دکابینې پاته غړي ورتـه معرفـي کـړي ۰ ولـي دجمهـوري ریاسـت ویانـد بـه هـر ځل دمطبوعـاتو پـر مـخ د"کـرزي صـاحب" ډیـر مصروفیت او په وروستنیو بهانو کي بیـا امریکـا تـه دهغـوي سفر، او پـه کابـل کـي دمشـورتي جرګـي جوړول ، ددې وړاندیز دځنډ مهم عاملونه بلل ۰ څو په ورستنیو هفتو کي یعني دمشورتي جرګي یوه هفتـه مخکـي ولـسي جرګـي دنـه کار کولو اعتصاب اعلان کړ ، او تر څنګ یې دا هم وویل چې دولسي جرګـي غړي بـه پـه مشورتي جرګـه کـي هم ګډون ونه کړي ۰ ولي وروسته ولسي جرګي ته جمهوري ریاست مقام وعده ورکړي وه ، چې دمشورتي جرګي پـاي ته رسیدو وروسته به ژر دپاته وزیرانو وړاندیز ولسي جرګي ته ورکړي ۰ ولي داوعده چې یې ورسره کړي وه بیـا هم پر ځاي نه کړل ، ولسي جرګي بیا هم خپل اعتصاب ته دوام ورکړ، او میز ټکونه یې بیـا شروع کړ ل ۰ ولـی پـه داسي حال کي چې دجمهوري ریاست ویاند هر ځل دژورنالستانو پـه وړانـدي تکـراراً ویـل چـی : "کـرزي صـاحب" کوښښ کوي چې ډیر پاک ، ملی ګټو ته وفاداره ، مسلکي او دولس په منځ کي دښه محبوبیت څښتنان دپاتـه وزیرانـو په توګه ولسي جرګي تـه معرفـي کـړي ۰ ولـي ددوي داڅرګندوني آزادوسیاسي کارپوهانو دیوه چل او چم پـه څیر اوریدلي او تبصري به یې پري کولي ۰ داځکه چې د"کرزي صاحب" اداري پـه تیرو نهـو کلونـو کـي پـه دې هکلـه دولس په وړاندي هیڅ نوع صداقت نه دې ښکاره کړي ، ځکه نو دایي دچل او چم څرګندوني بللي ۰ او ددې آزادو سیاسي کارپوهانو نظرونو هغه وخت بیا دعمل جامه واغوستل چې دجمهوري ریاست مقام د۱۱ پاتو وزیرانو دجملي څخه د۷ نومول سوو وزیرانو لیست کابینې ته ولیږي ، چې د دې اوو وزیرانو پـه لیسـت کښي دري هم هغه دولسي جرګي د غونډي رد سوي وزیران وه ، چې داځل یې بیـا پـه نـوي وړانـدیز کـي یـی ځـاي ورکړي وو، چـی هغوي عبارت د محترم ( احدي ، خالد ، دانش ) څخه ۰ ولـي کوم وخت چې پـه ۲۸ ـ ۶ ـ ۲۰۱۰ نیټـه دا د نومول سوو وزیرانو لیست دجمهوري ریاست مقام لـه خـواه ولسي جرګي تـه وړانـدي سـوو ، یـو شـمیر وکیلانـو او سیاسي کار پوهانو دجمعي رسنیو دلاري داسي فکر کاوه چې ددې بی کیفایته ،ځیني یې دمخکنیو وظیفو پر مهـال پـه لویـو اقتصـادي درغلیـو مـتهم ، داخلـي جنګـي تنظیمونـو او بهرنیـو اسـتخباراتي کړیـو سـره پـه اړونـد کـي ددا‌سـي شخصیتونو لیست شاید نور هم دولسي جرګي او جمهوري ریاست تر منځ داعتماد فضا کمزوري او مناسبات نـورهم تیرنګلـي کـړي ۰ ولـي کـوم وخـت چـی دراي اچوني پروسـه شـروع او نتیجـه یـې اعـلان سـول د۷ نومانـدو وزیرانـو دجملي څخه یوازي ۲ نوماندو وزیرانو ونه کړایسواي چې داعتماد رایه تر لاسه کړي ۰ او نورو ۵ وزیرانـو دپخـوا نیو جلسو خلاف په پوره اکثر یت داعتماد رایه تـر لاسـه کـړل ۰ چـی دولسي جرګي پـه دې رایـه اچونـه کـي نیژ دي ۲۱۲ وکیلانو ګډون کړي وو ۰ اوپه دې رایه اچوني سره دولسي جرګي داکثریت غړو او قانوني صـاحب دادچل او چم څخه ډک د میز ټکوني اعتصا ب په داسي حال کي پاي ته ورساوه ، چې دا ځل یې په جلسه کښي هغه پخواني رد سوي وزیران لکه ( احدي ، خالد ) هم پـه لـوي اکثریـت بانـدي تائید کـړل ۰ولـي "محترم کـرزي" بیـا هـم ولـسي جرګي ته خپل دري نور ملګري لکه ( سنګین ، تورن اسماعیل ، یوسف پښتون )چی هغوي هم یو ځل د ولـسي جرګي له خواه رد سوي وه ، دا ځل یې دراي اخستني له پاره ولسي جرګي ته معرفي نـه کـړل ۰داسي معلومیږي چې په پورتني پټه معامله کي دقانوني تر مشري لاندي دولسي جرګي اپوزیسیون شاید د"کرزي صـاحب" څخـه ډیـر امتیازونـه غوښتل، ځکه نو پر ټولو وزیرانو باندي موافقي ته نه دي سره رسیدلي ، ځکـه نـو "کـرزي صـاحب" دري پورتني رد سوي وزیران وراتلونکي ولسي جرګي ته دبیا رایی اخستني له پـاره پـه حکومـت کـي لـه ځانـه سره ټینګ وساتل ، او هغوي اوس هم داساسي قانون څخه پـه ښکاره سر لغړونـه دسرپرستو وزیرانـو پـه حیث ولـي پـه ډیـره سرلوړي سره هر یوه د وزارتونو چوکۍ په ځان پوري ټینګي نیولي او په زري موټرانو کښي یوي او بلي خـواه تـه دیو شمیر نورو وزیرانو په څیر خپلي اقتصادي پټي معاملي مخ ته بیایي ۰ دپورتنیو عینـي واقعیتونوپـه نظـر کـي نیولو سره داسي نتیجه تر لاسه کیدلایسي ، هغه داچی :

معلومه خبره ده چی "کرزي صاحب" دولسي جرګي ډیر داسي غړي پیژني چی هغوي دپیسو اومقام اخستني لـه پاره هر وخت خپل دتعظیم سرونه ټیټ کړي ، او ټیټوي یې ۰ ځکه نو داسي معلومیږي ، چی "کرزي صاحب" خپل یو شمیررد سوي وزیران دیوي پټي معاملي پـه شتون کښي ددوهم ځل لـه پـاره دولسي جرګي پـه اکثریت غړو باندي قبول کړل ۰ شاید په دې معامله کي به قانوني صاحب تـه دنـوي ولـسي جرګـي دبیـا ریاسـت وعده اویـو شمیر وکیلانو تـه پـه ټاکنو کښي دکامیابي تر سرحده دډیرو امکانـاتو دبرابرولو وعدي ورکول سوي وي ۰ ځکه

ودوي ته تر مادي امتيازونو د ولسي جرګي دبيا راتلو امتياز جګ دي ۰ دا ځکه چی ددي چوکيو په زور ډير شمير وکيلانو وکړايسواي چی په غير قانوني ډول دملت په شتمنيو باندي ځانونه دميلينونو ډالرو خاوندان کړي ۰ولي دډيرو سوالونو وځنګ ته يو سوال چی افغان ولس ته په دې اړوند راپيدا سوي دي هغه دادي چی که په دې مسله کي دکرزي صاحب او ولسي جرګي درهبري تر منځ معامله نه وي سوي ۰ نو دکومو منطقو پر اساس تاسو يو شمير وکيلانو چی مختلف اتهامات مو پر دغو رد سووزيرانو باندي لګولي وه ، دا ځل مو په ډيره آرامي هغوي ته بيرته رايه ورکړه ۰

په داسي حال کي چی دا رد سوي وزيران ديوشمير نورو پخوانيو او اوسنيو وزيرانو په څير دافغان ولس په وړاندي دملي شتمنيوپه اړوند دسترو ګناهو مرتکبين دي ، چی دافغانستان دعيني شرايطو څخه ليري او داساسي قانون سره په ښکاره سر لغړونه ، دآزاد بازار ( چور بازار ) او خصوصي سيکتور ( اقتصادي جنايتکارانو ) دتقوي تر نامه لاندي هر وزير په خپله ساحه کښي د ملي شتمنيو ډيره برخه او امتيازونه ( ميليارډونو ډالرو په ارزش) په ډيره بي رحمي ، د اسلامی او افغاني وجدان ، دسياسي سالم تعقل او مسلکي پوهي څخه ليري دملي تجارانو په نامه ويوتعداد اقتصادي جنايتکارانو ته چی اکثريت يي دبهرنيو استخباراتو څخه په اړوند کي دي دکم ارزشه ليلام په څير ورکړي دي ، چی افغان ولس به هيڅ وخت ددوي دا غير مشروع کړونو ته قانونيت ور ونه بخښي ، اوانشآ الله د اشغال تر ماتي وروسته به دټولو هغو کسانو سره چی ملي شتمني يي پلورلي او يا يي را نيولي وي دعدل او انصاف په تله کي به حساب ورسره کوي ۰

تمت بالخير